لنډه کیسه: نا پایه زخم.

لیکواله: مسکان جاوید.

ژباړه: محصل.

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0




Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

پښتو ناولونه

خواجه زي خپروندويه اداره

HTTPS://T.ME/PASHTOONOVELS0

@shuhab09

ketabton.com - The Digital Library

"بِسمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ"

ځینې زخمونه نه د وخت په تیریدو سره رغیږي، او نه هم په هیریدلو، یوازې ژوریږي او په زړه کې ځان ته ریښې پیدا کوي، او داسې شي لکه د انسان د ساه اخیستلو یوه برخه...
دا داستان د یوې روڼ نظره او ساده زړې نجلۍ د ژوند کیسه کا، هغه چې په یوځل کتلو شروع شو، په یوې موسکا یې دوام وکړ او په یوه ګواښ سره یې زړه ټوټه ټوټه شو.

هغه فقط مئینه شوه په خپلې ټولې ساده ګۍ او باور سره، خو ژوند تل د ریښتینو انسانانو سره مهربانه نه وي.
دا د هغه نجلۍ داستان دی، چې د وعدو، دوکې، خیالونو او واقعیتونو ترمنځ تېږي شوه، داسې تېپ چې هیڅ پای نه لري...

***

له کله چې مې سیاوش ژوند ته راغی، هرڅه نوی رنګ واخیست، هغه مهربانه وو، آرام وو، خبرې یې هیله ښنونکې وې، له ګډ ژوند، راتلونکي او له نیکمرغیو به یې راته ویل.

ویل به یې: دواړه به ښه ژوند جوړ کړو، بختوره به دې کړم.
ما باور پرې کړی وو، په ټولو خبرو مې یې زړه ترلی وو، کله به یې چې له خپلې

ketabton.com - The Digital Library

مینې او وعدو راته ویل، سترګې به مې ورته ځلیدلې، هغه به تل ویل چې کورنۍ یې مالداره ده، شانداره واده به درته ونیسم، خو زما ځواب به تل یوه خبره وه:
"پیسې مهمې نه دي، د انسان زړه مهم دی، چې د رښتیا مینه پکې وي، باقي خپله جوړیږي."

ژمنه یې کړې وه چې په یوه میاشت کې له کورنۍ سره غږیږي، ما هم په شوق سره دا ورځې شمیرلې، سترګې په لاره به وم، له ځانه سره به مې ویل، زه د نړۍ بختوره نجلۍ یم، یو څوک شته چې له زړه را باندې مین دی.

ورځې تیریدلې، زمونږ اړیکه هم ښه وه، سیاوش له ما سره ډیر مهربان وو، هیڅکله یې کوم شک نه کوو، فشار به یې نه را باندې راوړو، زه هم زیاته خوشاله وم، چې یو را سره رښتیا مینه لري، مئین دی را باندې، ورو ورو مې احساس کاوه چې ما هم زړه پرې بایللی، هو زه رښتیا پرې مئینه وم، زړه مې ور پورې تړلی وو، د یوې میاشتې وعده یې چې را کړې وه، وروستۍ ورځې یې وې، زړه کې مې ویل، له یوې خوا مې خور هم نوره په تلو ده، او هغه ویل چې یوه میاشت کې به له کورنۍ سره غږیږم...
ښا نو زه هم ډیره خوشاله وم، فکر مې کړو چې د ځمکې بختوره نجلۍ زه یم...
وروستۍ ورځې وې، خور مې ویل زنګ ورته ووهه، وګوره چې څه شو، وخت خو هم پوره دی.

له هیجانه ډک او په اندیښمن زړه مې ورته زنګ وکړ، سیاوش تیلیفون واخیست، د تل غوندې آرام او خوږ وغږید، کله مې چې موبایل خور ته ورکړ، ویې پوښت:
سیاوش! له کورنۍ سره دې وغږیدې؟
او دلته وو چې هغه بهانو ته مخه کړه...
ویې ویل: ورور مې تر اوسه نه دی نامزاد شوی، ړومبی باید هغه واده وکړي، اوس دومره بیسې نه لرو.
زړه مې مات شو، هغه څوک چې تر پرونه یې له خپلې شتمنۍ غورې کړې، نن یې د

ketabton.com - The Digital Library

پیسو نشتوالی بهانه کړ، خور مې خفه شوه، ورته یې کړه: دا چې نیت دې جدي نه وو، ولې مې دې خور ته وغولوه؟

خبرې یې سره توندې شوې، هغه موبایل را بند کړ، چوپتیا مې لا پسې درنه شوه، خور مې په خواشینۍ سره وویل:
اسرا دا هلک دوکه درکوي، که دی رښتینی وای، خپله ژمنه یې پوره کوله. وګوره یوه میاشت وخت مو ورکړی وو، که یې رښتیا ویل حتماً یې عملي کوله.
خو... ما اوس هم په هغه پورې زړه تړلی وو، تراوسه مې باور درلود چې سیاوش مینه را سره لري حتی کله مې چې خور هم رانه لرې شوه، بیا مې هم مسېج ورته پریښود، غوښتل مې په دلیل یې پوهه شم.
سیاوش وویل: ما درک کړه، شرایط سخت وو.
او ما بیا په خپلې ټولې ساده ګۍ، ټولې مینې سره هغه وبښو... بیا بیا مې بښنه ورته وکړه.

د سیاوش په مینه کې ورکه وم، اصلاً نه پوهېدم څه وکړم، خور مې راته قهرجنه شوه، ډېره یې خوابدې کړم، ما اصلاً نشو کولای یو سم تصمیم ونیسم، زه چې رښتیا پرې مئینه وم، باور مې پرې وکړ، دوهم ځل لپاره مې فرصت ورکړ. د سیاوش په مینه کې دومره ډوبه وم، چې د سمې او غلطې پریکړې ترمنځ مې توپیر نشوای کولای، په دې نه پوهېدم، په کومه لاره چې روانه یم ټوله تیاره او تروږمۍ ده.
میاشتې تیریدلې، زما او د سیاوش مینه لا ډېریدله، فکر مې کړو دا هماغه مینه ده، چې په ناولونو کې یې لیکي، یو بې ریا او ساده زړې، او  دا هیله چې د تل لپاره به د یو بل سره وو...

مګر هغه څه چې زه نه پرې بوهېدلم، دا وو چې کله کله د ډېرو مهربانیو تر شا پټې موخې او نیتونه پراته وي.
لومړی ځل چې سیاوش رانه تصویري اړیکه وغوښته، مخالفت مې وکړ، ماته سخته وه، له دېنه نه چې علاقه مې نه ورسره درلوده، بلکې د هغه حیا او تربیې امله چې له

ketabton.com - The Digital Library

ماشومتوبه ورسره را لویه شوې وم.
خو هغه ټینګار وکړ، ویل به یې: که مینه را سره لرې، بیا یې ولې نه کوې، داسې ښکاري چې مینه دې راسره نشته.

یوه شپه مې چې حس کړه که همداسې مخالفت وکړم، ښایي له لاسه یې ورکړم، خو هغه لا بده غوښتنه وکړه...
ویې ویل: داسې انځور را ولېږه چې بدن دې ووینم.
زړه مې لرزه وخوړه، ورته مې کړه:
"سیاوش! مینه له زړه کیږي، نه په جسم.. ولې داسې غوښتنه رانه کوې؟"
اما هغه زه په خپلو الفاظو دوکه کړم: "که مینه دې راسره لرله، وخته به دې دا کار کړی وو، یا دې عکس را ولیږه، یا دې هېروم."

او ما چې په خپل ټول وجود مینه ور سره درلوده، پاتې راغلم، دده د بایللو له ویرې مې داسې کار ته زړه ښه کړ چې باید نه مې وای کړی، عکس مې ورته ولېږو، مګر دا یې خلاصون نه وو، د داسې مسلسلو غوښتنو پیل وو، چې هره ورځ به لا سختیدلې...
له عکس وروسته یې د ویډیو کال غوښتنه وکړه، ویل یې زه باید ډاډه شم چې ته پخپله یې.

هر څومره مې چې ورته وژړل، زارۍ مې ورته وکړې، هېڅ ګټه یې ونه کړه، ویې ویل: "ته زما راتلونکې میرمن یې، دا کارونه باید زما او ستا ترمنځ عیب نه وي."
او بیا مې هم د مینې په خاطر خپل عفت له لاسه ورکړ، ویډیو کال یې یو عادت وګرځید، یوه تلپاتې غوښتنه یې شوه.

نور به سیاوش تل راته ویل: "که د مرګ په حالت کې هم وې، باید له ماسره وغږیږې، ګنې ته حتماً خیانت کوې."
د هغه آرامې مینې نه اوس فقط شک او تردید پاتې وو، هر وخت به مې چې د کورنۍ له امله نشو کولای اړیکه ورسره ونیسم، یو تهمت به یې تر غوږه را تېراوه.

ketabton.com - The Digital Library

ویل به یې: "په تا پسې یو بل څوک دي ځکه نه راځې."
زړه مې نور له دې بدو ګمانونو ستړی شوی وو، مګر تر اوسه مې هم مینه ور سره درلوده...

هره شپه به له اوښکو سره ویدېدلم، نه پوهېدلم ولې ټولې هغه مهربانۍ نن راته په یو ډول روحي شکنجې بدلې شوې، تردې چې خور مې را باندې پوهه شوه، خبره شوه چې څه بدې غوښتنې یې له ما کړې، انځورونه، ویډیوګانې....
غوسه شوه، زړه یې زما غوندې مات مات شو.
خور مې"حریر" همیشه ویل: «کوم هلک چې رښتیا دې خوښوي، هېڅکله هم له تا بربنډ عکسونه یا ناسمې غوښتنې نه کوي.»

زه هم تل په دې هڅه کې وم چې ځان ته دا وښیم چې سیاوش مینه را سره لري، مګر خور به همیشه ویل: مینه نه درسره لري، یوازې یو میل "نفسي غوښتنه" ده.
زه چې په سیاوش مئینه وم، نه مې غوښتل دا ومنم، د همدې لپاره مې خور هم نوره نه را سره غږیده، زه اوس په دوو لارو کې ورکه وم، نه مې سیاوش پرېښودلای شوی او نه هم خپله خور...

زه رښتیا په سیاوش مئینه وم او په دې هرڅه مې باور نشو کولای. له خور سره مې اړیکه یوازې د خور په څېر نه وه، بهترینې ملګرې وو، حتی یوه ورځ هم یو له بله نه بېلیدو، مګر د سیاوش د مینې په خاطر آن له خور سره هم وجنګیدم، او د هغې ټولې خبرې مې نادیده ونیوې، تل به مې سیاوش ته ویل: څه وخت خواستګارۍ ته راځې؟ ولې هغه همیشه پلمې کولې، ورو ورو مو اړیکه سړه شوه، هغه ته انتظار مې لا پسې زیات شو.

کله به چې آفلاین وم، یا به مې ستونزه وه، او نه شو مې کولای چې آن شم، سیاوش به ډېر خوابدی وو، ویل به یې: ته حتماً له کوم بل چا سره اړیکه لرې.
ما به ورته قسمونه کښل چې ویده شوې وم، یا مې کوم کار درلود، مګر د هغه باور نه راتلو، څو ځله مو په همدې تړاو جنجال وکړ، تردې چې یوه ورځ مې سیاوش ته

ketabton.com - The Digital Library

وویل: "وروسته له دې کله چې ویدیږم، آفلاین کیږم به چې کوم شک ونه کړې."
هغه وویل سمه ده.

خو کله به چې د شپې یوولس بجې کیدلې ما به ورته وویل: نوره به ویده شم، خو هغه به راته کړه: درواغ، ته حتماً له کوم بل یوه سره اړیکه لرې، دا شمېره دې گل شي، خو بله شمیره هم لرې په هغه به له خپل عاشق سره مجلسونه کوې.
او زه له دې ټولو شکونو او بدگمانیو نوره ستړې وم، هره شپه به همداسې کیدل، شک او تردید به وو چې زما زړه ته به یې ټپ ورکولو، نه پوهېدم باید څه وکړم، له دې کم باورۍ او شکایتونو ډېره ستړې شوې وم.
هره شپه په ژړا ویده کېدلم، او ورځ به مې په جنګ او خفګان سره تیرېدله، له یوې خوا د کور کارونه ورځ تر بلې ډېریدل، او بله خوا میلمانه به مو هم وو، واقعا ستړې وم.

نور نو سیاوش هماغه پخوانی انسان نه وو، نه یې د مهربانۍ درک وو او نه هم د هغې مینه چې له ما سره یې درلوده.
هغه په یو خودخواه او بې رحمه انسان اوښتی وو، بې پروا او بې احساسه وو. دې موضوع زه ډېره ځورولم، له ما یې غوښتنې هره ورځ ډېریدلې، تل به یې غوښتنه دا وه چې په ویډیو کال کې ور سره بربنډه وم.
ما به ورته ویل چې رښتینه مینه په جسم او ظاهر پورې هیڅ تړاو نه لري، ولې هغه به ویل: "نه، ته اوس هم هماغه پخوانی فکر لرې، هسې مې هم میرمنه کیږې، هیڅ کومه ستونزه نه لري."
کومه شپه به چې له ډېرې ستړیا خوب وړې وم، هغه به ګمان کوو چې له کوم بل هلک سره اړیکه لرم. ګواښ به یې راته کوو چې ځان وژنه کوم، په تصویري اړیکه کې به یې عجیب او غریب کارونه کول، کله به یې ویل ټابلیټ خورم او ځان له منځه وړم.

ketabton.com - The Digital Library

زه ساده وم او باور به مې کاوه چې ګواکې رښتیا دې کار ته لاس اچوي.
ډیری شپې به له خوبه ورته تیریدلم، ویښه به وم چې غوسه نه شي او ځان وژنه ونه کړي، هره شپه به یې نوې پلمې"بهانې" راوړې، ویل به یې، بې روزګاره شوی، کورنۍ یې سم چلند ور سره نه کوي، در آمد نه لري، او ماته به یې ویل چې د کم معاش له امله ډیرې سختۍ اوکاږي.
ما به تل ورته ویل: "په ګډه به ژوند جوړوو، پیسې مهمې نه دي."
د شپې به چې کله یوازې شوم، په زړه کې مې ویل چې رښتیا هم سخت کارونه کوي، له څومره ډیرو ستونزو سره به مخ وي.
زمونږ اړیکې همداسې دوام درلود، اما د هغه ناسمې غوښتنې او بې ځایه ګواښونه ورځ تر بلې ډیریدل.

***

په دې موده کې مې خور هېڅ خبرې نه را سره کولې، تر دې چې یوه ورځ یې د سیاوش له کیسې مور خبره کړه...
وای څه سخته ورځ وه، مور مې ډیره قهرجنه شوه، موبایل یې رانه واخیست
دا حالات راته ډیر سخت وو، ورو ورو مې ګمان کاوه چې شاید خور به مې رښتیا وايي. د یوڅه وخت لپاره مې له مور نه تیلیفون پټ کړ، سیاوش ته مې په سختۍ سره مسېج وکړ او له ټولې موضوع مې ورته وویل.

ورته مې کړه: "راشه خواستګارۍ ته، مور مې زمونږ له اړیکې خبره شوې."
ولې بیا یې هم راته بهانې وکړې، ویل یې ته دروغ وایې!!
ویل یې: "ته باید د کورنۍ په وړاندې ودریږې"
ما وویل: زه نجلۍ یم، څنګه کولای شم، داسې یو کار وکړم.
په ژړا او په زاریو مې ترې وغوښتل چې راشي زما غوښتلو ته ولې بیا به یې هم ویل: "که مینه را سره لرې، صبر وکړه، باید د خپلې کورنۍ په وړاندې ودریږې."
ویل به یې پیسې نه لرم، دا خبرې نورې پریږده.

ketabton.com - The Digital Library

مور مې بیا را باندې پوهه شوه، ډیره زیاته غوسه یې وکړه. ما هم د ډیر استرس او فشار له امله په پټه د مور خبرې په غړیز مسیج کې سیاوش ته ولیږې.
ومې ویل: وینې چې دروغ مې نه درته ویل: مور مې په رښتیا له هرڅه نه خبره ده.
ولې بیا یې هم شک وکړ او ویې ویل: "خدای خبر د چا غږ دی.
آخره شپه مې مسیج کې ورته وویل: وروستی فرصت دی، نور موبایل رانه اخلي، مګر بیا یې هم جواب دا وو: « د موبایل له پایلې دې هم خبر یم، غوارې په همدې بهانې سره له ما جلا شې، حتماً بل کس دې ځانته پیدا کړی، ولې قسم خورې؟ که رښتیا مینه را سره لرې، مور ته دې ووایه چې همدې هلک سره مینه لرم، که تباه هم شم، خپله به شم، په تاسو پورې اړه نه لري، خپل ژوند مې دی.
زه خوارکۍ چې واقعاً ډیره ستړې شوې وم، هیڅ چاره مې نه درلود، سیاوش به باور نه را باندې کوو، تل به یې ویل، دروغ وایې، مجبوره شوم چې په زاریو زاریو د هغه خودخواه سیاوش څخه د مینې سوال وکړم، غرور مې ولوید، زړه مې مات شو، قسم مې ورته وخوړ، ولې بیا یې هم وګواښولم: "که چیرې ما بلاک کړې، یا دې مور ته موبایل ور وښیې، ځان وژنم."

ټول وجود مې له ویرې ولړزېد، واقعاً نه مې غوښتل داسې یوځه واورم، سخته شپه وه، ما به تل ترې غوښتل چې خواستګارۍ ته مې راشي، ولې هغه به ویل: "ته دروغ وایې، حتما یو یل څوک دې ژوند ته راغلي، همدا خبره ده چې خیانت راسره کوې."
په ژړا مې ورته وویل: که بل څوک هم وي بیا ولې تاته د راتګ وایم؟
دا د یوه ساعت خبره نه ده، د ټول عمر ترون دی!
مګر هغه بیا هم بهانه راوړه او ویل به یې: "تباه کوم دې که ولاړه شې."
ومې ویل زه نه ځم، مور مې په هرڅه پوهیدلې، راشه خواستګارۍ ته، زه رښتیا درباندې مئینه یم.

خو هغه ویل، نه یې دروغ وایې!
په دې سخت حالت کې چې باید زما ملاتړ یې کړی وای، ددې پرځای چې د غره په څیر مې شاته ودریږي، برعکس زه یې ماته کړم، سپکه یې کړم، بد رد یې راته وویل،

ketabton.com - The Digital Library

تل به یې شک کوو، سهار چې شو، خور مې ولیدل چې لا هم له سیاوش سره مسېج کوم، دا ځل یې نو په رښتیا موبایل رانه واخیست

راته یې کړه: ته خو په خپلو ښو نه پوهیږې، سیاوش دې غولوي.
د هغه ټولې شمیرې یې ور بندې کړې، هیڅ نښه یې ترې پرې نښوده. نور نو دنیا را باندې بوج شوه، زړه مې مات وو. نه ژړا را سره کمک کړلو نه هم چوپتیا، تش کالبوت پاتې وم... لکه څوک چې له هرڅه نا امیده شي او نه پوهیږي څه وکړي؟
دوه ورځې تیرې شوې، دې هسې په نوم آرامتیا ډیر ژر پای وموند، له نا معلومې شمیرې مې خور ته یو پیغام راغی: "ستاسو دواړو خویندو ژوند به در برباد کړم."
غوسه راغله، وینه مې په رګونو کې ویلې شیده، له هغه پیام وروسته یې له ما اخیستی لوڅ عکس را لیږلی وو، خور مې یې وګواښوله چې دا عکس دې ورور ته لیږم.
ساه مې نه شوای اخیستی، ستونی مې نیولی غوندې وو، هیڅ باور مې نه راتلو چې دا دې سیاوش وي، هماغه هلک چې زما سره یې په مینه قسم وخوړ، ویل به یې بختوره به دې کړم... او اوس یې داسې ګواښ راته وکړ.

ځوځله مې تکرار کړه چې دا سیاوش نه دی، دا نشي کیدای چې هماغه سړی وي... مګر وو، واقعاً هماغه وو.

خور مې له خپل ټول همت سره یې چې درلود، له خپل ملګري آریاس سره دا موضوع شریکه کړه، آریاس یې د ورور غوندې وو، هغه سیاوش ته مسېج وکړ او ورته یې کړه: دا ډیر بزدلانه کار دی! څنګه کولای شې د هغې نجلۍ عکس چې د مینتوب  ادعا یې کړې د هغې خور ته ولیږې؟
خو سیاوش په دیرې بې شرمۍ سره وویل: مینه ورسره لرم!
آریاس سیاوش ته وویل: څنګه کیدای شي، یو څوک چې مینه در سره لري، ګواښ درته وکړي؟ څنګه امکان لري چې په خپله خوله وایې عاشق دې یم، او بیا یې بربنډ عکسونه کورنۍ ته لیږې؟

ketabton.com - The Digital Library

سیاوش هیڅ نه منله، ویل به یې: زه له "اسرا" سره مینه لرم!
خو څه موده وروسته آریاس را سره مرسته وکړه او زه یې پوهه کړم، چې هغه اصلاً یو بې وزله او بې مانا انسان دی.
څه وخت سره تیر شو او نور له سیاوش نه کوم خبر نه وو، زه به هم آفلاین وم، هیڅ کار ته مې زړه نه کیدو، تر دې چې څه وخت وروسته، د سیاوش پیغامونه بیا را پیل شول...
دا ځل ما ته نه، بلکې خور ته مې، گواښوله به یې، که اسرا له ما سره نه وي عکسونه به یې خپاره کړم.

ویرې مې ټول وجود نیولی وو، مگر خور مې تر هغې ډیره پیاوړې وه چې ما یې فکر کاوه، تل به مې شاته د غره په څېر ولاړه وه، هر وخت یې زما ملاتړ کولو، خپله په هغه ورځو کې ژړنده وم، نه مې مینه لیده نه واقعیت.
باور مې نه راتلو، چې یوه ورځ دې سیاوش داسې کار ته لاس واچوي.
خور مې ویل: مه ډاریږه زه در سره یم، شاته دې یم.
هره شپه به مې د یو ویروونکې خوب غوندې وه، سیاوش اریاس ته وعده ورکړې وه چې نور به مزاحمت نه کوي، خو د تل په څیر فقط یوه وعده وه. تر دې چې آریاس مجبور شو پولیسو ته مراجعه وکړي، یو ملگری یې په پولیسو کې وو، او دا موضوع یې په شخصي توگه حل کړه.
سیاوش ویل چې ټول عکسونه یې حذف کړي، خو وروسته جوته شوه چې یوازې یې خو دانې د پولیسو په وړاندې پاک کړي وو. له نورو عکسو یې کاپي اخیستې وه...

وروسته له هغه یو څه وخت آرامي وه، نه کوم پیغام وو نه تهدید...
زه به هم کله کله آنلاین کیدلم، یوازې ددې لپاره چې ځان د ناولونو په لوستلو بوخته وساتم، غمجنه شوې وم، کتابونه مې یواځینی پناه او آرام ځای وو.
خو دې آرامتیا هم ډیر دوام ونه کړ، د سیاوش پیامونه بیا را شروع شول، پرله پسې یې مسیجونه کول، خو دا ځل به گواښ نه وو، ویل به یې تیروتنه مې کړې، هر څه د

ketabton.com - The Digital Library

مینې له امله وو، اما زما نور باور نه پرې راتلو.
حتی د سیاوش ملګرو هم پیغامونه را لېږل چې هغه پښیمانه دی، ویل یې راشه، بیا سره یوځای شئ.
مګر ما نور نه غوښتل چې هغه تورو او له اوښکو ډکو ورځو ته بیا ور وګرځم.
منم چې مینه مې ور سره وه، د هغې په وړاندې مې احساس پاک او سپېڅلی وو.
مګر هغه... خودخواه وو، یوازې یې خپل ځان لیده.
ویل یې چې تیروتنه یې کړې، مګر اوس پښیمانتیا څه په درد خوري؟
ملګرو یې عکسونه را ولیږل ویل به یې چې وګوره څه ترې جوړ شوي.
خو زما لپاره، د بیرته تګ لاره نه وه پاتې، باور مې له منځه تللی وو.

وخت تیر شو...
د سیاوش سیوری مې نور له ژوند نه ورک وو، خو د زخمونو نښې یې لا هم زما په زړه پاتې وې.

هغه زخمونه چې نه په اوښکو ورغېدل نه په هېریدلو، بلکې د خپل ځان د ارزښت په پیژندلو سره مې یې ورو ورو مرهم وموند.
څه وخت وروسته یې بیا پیغامونه راغلل، بیا هم هماغه پخوانۍ خبرې وې، "مینه در سره لرم" - "تیروتنه مې کړې"...
خو نور مې زړه نه ریږیدو، سترګې مې نه نمجنې کیدلې، زړه مې د هغه لپاره نور ټوپونه نه وهل، هېر کړی یې وو...
نه دا چې هغه مې هېر کړ، بلکې زده مې کړل چې ځینې خلک باید سره له ټولو خاطرو او یادګارونو یې د تیر وخت په یوه څنډه کې پریږدې.
نور مې په مینې هسې د پخوا غوندې باور نه درلود، باور مې مات شوی وو، صدمه یې لیدلې وه، تر پښو لاندې شوی وو، سیاوش بیا هم غوښتل چې ژوند ته مې را شي، د مینې په پار نه بلکې د پښیمانتیا له امله، خو پښیمانتیا هېڅکله هم د مینې ځای نه شي نیولای.

ketabton.com - The Digital Library

اصلا مې نشو کولای سیاوش درک کړم، آیا دا اوس مینه وه؟ اوس ساعتونه په دې سوچ کې وم چې ولې یې زما په حق کې دومره بدۍ وکړلې، او اوس ولې بیا پښیمانه دی؟
له هغو تورو او ترخو ورځو اوس څو میاشتې تیرې شوې دي، اوس نه اوښکې شته، نه سیاوش او نه هم کوم ګواښ...
ورو ورو مې په ژوند کې سکون او آرامښت ځای ونیو، داسې نه چې هغه مې هېر کړ، بلکې زده مې کړل چې څنګه له هغو ټپونو سره ژوند تېر کړم چې په زړه مې پاتې دي.
په دې دومره موده کې مې خور هر وخت را سره وه، په ټول توان یې زما ملاتړ وکړ، او ماته یې وښوده چې د خپل ځان ارزښت وپیژنم، دا ټولې ورځې زما لپاره یو درس غوندې شوې، چې هیڅ وخت په هغه چا پورې زړه ونه تړم چې ور یې نه دي.

څه موده وروسته مې ژوند بیرته نورمال حالت ته راغی، د خپلو درسونو په لوستلو مې پیل وکړ، هغه ناولونه به مې ویل چې خوښ به مې وو، ژوند کې مې نوره ویره نه وه، ځای یې هیلو او امیدونو نیولی وو.
د تل لپاره مې د هغه سره خدای پاماني وکړه، د هغه له یادونو سره، د هغې ساده نجلۍ سره چې د خپلې مینې د اثبات لپاره د تباهۍ تر کندې ولاړه.
نور نه غوارم هغې ویرې ته، هغو اوښکو ته، هغو تورو شپو ته ور وګرځم... زه اوس خپل ځان لرم، د غره په څېر خور مې را سره ده، او دا له هر څه نه ما ته بسنه کوي.

پای.

زموږ د داسي نور ښایسته ناولون،کیسو او کتابونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل ته راشي.

ketabton.com - The Digital Library

دا هم زموږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0

دا هم د مدیر ایډی: @shuhab09

او دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک دلته غږیز ناولونه نشر کو..

چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com

دا هم د خواجه زي صیب د فسبوک ایډی:

https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014

یا هم کولې شې سرچ کړې: خواجه_زي صیب. نو ایډی به تاسو ته راشې.



## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*